مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي دویمه | د ۲۰۲۱ د مې ۲۳مه | ۷۱۹مه ګڼه

# د بهرنیو ځواکونو وتل؛

## عام افغانان: امریکایي ځواکونو ناورین جوړ کړی، ژر وتل یې د هېواد په ګټه دي



۳

### د دولت عالي شورا به د سیاسي اجماع سبب شي؟

۲ مخ

### سیاسي ناندرۍ او د افغانستان د پیسو د ورکړې یا تادیاتو نظام

۲ مخ

### چرا دروغ می‌گوییم؟ ۷ دلیل عمده دروغ گفتن

۳ مخ

## افضلي: په ګمرکونو کې فساد سیستماتیکه او په پلان شوې توګه روان دی

د افغانستان په ګمرکونو کې فساد په سیستماتیکه او پلان شوې توګه روان دی. د افغانستان پر روڼتیا د څار بنسټ وایي، چې د افغانستان تر ټولو ډېر عواید له ګمرکونو تر لاسه کېږي، خو په دغه برخه کې هره ورځ میلیونونه ډالر حیف او میل کېږي.
د دغه بنسټ مشر اکرام افضلي وایي، په ګمرکونو کې فساد په سیستماتیکه او پلان شوې توګه روان دی او لوړپوړي حکومتي چارواکي پکې ښکېل دي. د ده په خبره، له امکاناتو سره سره، افغان حکومت په دې نه دی بریالی شوی چې د دغه سیستماتیک لوټ او تالان مخه ونیسي.
افضلي د فساد اوسنۍ کچه بورږنوونکې بولي او وایي چې دا لړۍ د افغانستان اقتصاد ته نه جبرانېدونکې ضربه ده. تر دې وړاندې د ولسي جرګې ځینو غړو ویلي وو چې د فساد له امله په ورځ کې اته میلیونه ډالر د هېواد په ګمرکونو کې حیف او میل کېږي.
بلخوا د مالیې وزارت سرپرست تېره اونۍ د ولسي جرګې په استجوابیه غونډه کې په دغه وزارت او ګمرکونو کې روان فساد ومانه، خو نوموړي ټینګار وکړ چې دوی د یوه منظم میکانیزم او سیستم له لارې په مالي سکټور کې د فساد د له منځه وړلو لپاره لاس په کار شوي دي.

## د افغان سولې په پروسه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو یو



۵ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## فانوس د لوړو زده کړو موسسه

فانوس د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه ځینې پروګرامونه لکه لنډمهاله کورسونه، علمي سمینارونه، ورکشاپونه او عملي پروګرامونه پیل کړي دي.





## کرنې ریاست: روان کال به د ننګرهار د هندوانو حاصلات نږدې ۸۰ زره ټنو ته ورسېږي



د ننګرهار د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې د پخوا په پرتله خلک د هندوانو کرکېلي ته لېوال شوي، چې ورسره په یاد ولایت کې د هندوانو کروندې او حاصلات کال په کال زیاتېږي. د چارواکو په خبره، د ننګرهار د اتو ولسوالیو «کامې، بهسود، کوزکونړ، کوټ، بټي کوټ، ګوشته، خوږیانې او سره رود» په ۱۹۹۵ هکتاره ځمکه کې سږکال هندوانې کرل شوې، چې د اټکل له مخې به ۷۹ زره او ۲۰۱ متریک حاصلات ترې تر لاسه شي. دا په داسې حال کې ده، چې تېرکال د دغه ولایت په ۱۸۴۰ هکتاره ځمکه هندوانې کرل شوې وې، چې ۷۳ زره او ۶۰۰ ټنه هندوانې ترې راټولې شوې وې. د ننګرهار د کرنې ریاست د دغه ولایت د هندوانو سږني حاصلات د تېرو کلونو په پرتله ښه بولي او وایي، چې له بزګرانو سره د کرنې وزارت همکارۍ، په عصري بڼه کرکېله، د غوره تخم انتخاب د دې لامل شوي، چې د هندوانو حاصلات زیات شي.

## سیگار: حدود سه میلیون کودک زیر پنج سال از دریافت واکسین پولیو محروم شده‌اند



اداره بازرس ویژه امریکا برای بازسازی افغانستان یا سیگار با نشر گزارشی اعلام کرد که نزدیک به سه میلیون کودک زیر پنج سال در ساحه زیر کنترول طالبان از دریافت واکسین پولیو محروم شده‌اند.
این اداره، دیروز گزارش تازه خود را نشر کرد. در این گزارش گفته شده است که به دلیل ممنوعیت تطبیق واکسین پولیو توسط گروه طالبان ۲.۵ تا سه میلیون کودک و اکسین نشده‌اند.
طبق گزارش سیگار، این شمار از کودکان در مناطق تحت کنترول طالبان از تطبیق واکسین پولیو محروم شده‌اند.
اداره بازرس امریکا می‌گوید که این شمار کودکان، طی دو برنامه جداگانه در دو سال پسین از دریافت این واکسین بازمانده‌اند. در ادامه این گزارش هم‌چنان آمده است که هم‌زمان با آغاز کمپین خانه به خانه واکسین پولیو، کارمندان این بخش با تهدیدات امنیتی روبه‌رو شده‌اند.
گروه طالبان به گزارش سیگار به صورت رسمی واکنش نشان داده است. سیگار، به کشته شدن سه واکسیناتور زن توسط تفنگ‌داران در شهر جلال‌آباد و نیز یک انفجار در ریاست صحت عامه ننگرهار اشاره کرده است. تفنگ‌داران در دو حمله جداگانه در دهم حمل سال جاری، سه کارمند صحی در این ولایت را کشتند.
پولیو یا فلج کودکان، بیماری است که درمان ندارد و بهترین راه برای مهار آن، استفاده از واکسین پولیو برای کودکان زیر پنج سال است.




Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
کابل دریمه ناحیه، ددهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# د دولت عالي شورا به د سیاسي اجماع سبب شي؟

د ارګ هڅې لا هم روانې دي چې د دولت عالي شورا جوړښت او غړي نهايي کړي، خو ښکاري چې سر له اوسه په دې تړاو د حکومت او سياستوالو ترمنځ ژور اختلاف دی او دا به سخته وي چې دا شورا داسې جوړه شي، چې ټول پرې توافق ولري او نوي اختلافات دې ونه زېږوي. که څه هم په ارګ کې سرچينې وايي چې په دې اړه کارونه وروستۍ مرحلې ته رسېدلي، خو واقعيت دا دی چې يا به دا کار ځنډېږي او يا به يې هم اعلان له دولت سره نوي مخالفتونه را ولاړوي.
د دولت عالي شورا د ډاکټر عبدالله او اشرف غني ترمنځ له ټاکنيزو لانجو وروسته د هغه توافق برخه وه چې پر اساس يې واک د دواړو ټيمونو ترمنځ ووېشل شو. د دولت عالي شورا به په لويو مسايلو کې نه يوازې ولسمشر ته مشورې ورکوي، بلکې ولسمشر هم اړ دی چې مهمې او لويې پرېکړې د دې شورا د مشورې پر اساس وکړي. ځينې خوا وايي چې دا شورا به په لويو مسايلو کې د تصميم نيونې اصلي مرجع هم وي.
که څه هم دا شورا بايد ډېره مخکې جوړه شوې وای، خو ارګ فکر کاوه چې دا شورا به يې صلاحيتونه را کم کړي او بيا به په چارو کې خلاص لاس ونه لري، ځکه يې تر اوسه د دې شورا جوړېدل ځنډولي وو. له بله اړخه ارګ هڅه کوله چې له سياستوالو او مخورو کسانو سره جلا جلا معاملې وکړي او په دې ډول د هغوی ملاتړ را خپل کړي. د دې تر څنګ ارګ ځان پياوړی ګاڼه او فکر يې کاوه چې دوی د بهرنيانو په مرسته هر څه مخ ته وړلی شي او په کور دننه اجماع يا د سياستوالو ملاتړ ته اړتيا نشته، خو له طالبانو سره د امريکا هوکړې او د بهرنيو ځواکونو وتلو حالت بدل کړ. پر حکومت پرله پسې فشارونه راغلل او آن بهرنۍ سياسي، اقتصادي او نظامي مرستې ورسره کمې شوې. د دې تر څنګ پر ارګ فشار و چې د سولې په چاره کې نه يوازې چټک او لوی ګامونه واخلي، بلکې په دې تړاو په کور دننه هم اجماع رامنځ ته کړي. که څه هم ارګ د اجماع لپاره ځينې هڅې او معاملې وکړې، خو بيا هم ونه توانېدل چې اجماع رامنځ ته کړي. له همدې امله ببرته اړ شول چې د دولت عالي شورا جوړه کړي.
اوس چې د دولت عالي شورا جوړېږي، نو اجماع په رامنځ ته شي؟
داسې نه ښکارېږي چې د دولت عالي شورا به د اجماع سبب شي، ځکه چې د دې شورا د غړو په اړه توافق نشته. ډېر کسان شته چې ځان د دې شورا د غړيتوب مستحق ګڼي، خو دا ممکنه ده چې دا ټول دې په يوه شورا کې را ټول شي. د بېلګې په ډول يوازې جمعيت اسلامي تر لسو ډېر داسې کسان لري، چې هر يو يې ځان د دې شورا لپاره وړ ګڼي او که غړيتوب ور نه کړل شي، مخالفت به کوي. له بله اړخه د دې شورا د غړيتوب لپاره د ټاکل کېدو ميکانېزم داسې دی چې شته اختلافونه نه شي حل کولی. له همدې امله که دا شورا اعلان هم شي، اختلافونه به ورسره لا زيات شي او حکومت به ونه توانېږي چې د دې شورا پر مټ سياسي اجماع رامنځ ته کړي او د سولې او جګړې په برخه کې شته ګواښونه دې مديريت کړلی شي.

# سیاسي ناندرۍ او د افغانستان د پیسو د ورکړې یا تادیاتو نظام

لیکوال: خان افضل هډه‌وال
د افغانستان بانک مخکینی سرپرست

که افغانستان په سياسي او نظامي لحاظه له يو لوی ازمون سره لاس او ګريوان دی، نو په اقتصادي لحاظه او په ځانګړې توګه د بانکي خدماتو ازمون هم له دې برخو څخه مستثنی نه دی، بلکې کېدای شي چې په يوه مرحله کې تر دې نورو برخو خطرناک ثابت شي، په ځانګړي ډول د نظامي پرسونل معاشاتو، اعاشي مصارفو او جنګي خدماتو لپاره د مالي امکاناتو برابرول هغه څه دي، چې تر اوسه په دې اړه هېڅ ستراتېژي او وړاندوينه نه ده موجوده. افغانستان محدود بانکي نظام لري، همدارنګه د دغه هېواد جغرافيوي جوړښت د نغدو پيسو انتقال مشکل کړی چې په روان جنګي حالت او بهرنيانو په کمېدو او وتلو سره به نور هم پېچلی شي، خو نېکمرغي دا ده چې د افغانستان په بانکي نظام کې پرمختللي عصري وسايل موجود دي چې د مختلفو محصولاتو په عيارولو سره دا تشه ورکولی/کمولی شي. په دې حساس وخت کې د تادياتو په مختلفو سيستمونو کې د محصولاتو فعالول، د بانک تادياتي ستراتېژي چې دا محصولات او خدمات پکې تشريح او د پلي کولو ميکانيزم يې بيان شوي وي، حياتي ګڼل کېږي. دلته د افغانستان په موجوده تادياتي نظام کې مختلفو سيستمونو ته يو کتنه کوو:
ما بيا بيا ويلي، چې د افغانستان بانک يوازې د افغانيو د چاپ او نشر مسووليت نه لري، خو له بده مرغه زموږ ډېر مطرح چارواکي او سياسيون په دې اند دي، چې د افغانستان بانک د مديريت لپاره يوازې اقتصادي پوهه کافي ده، خو دا مطلق ناسم او د مالي نظام له اوسني جوړښت سره هېڅ سر نه لګوي.
د افغانستان بانک د قانون د ۸۷يمې مادې په اساس، د افغانستان د تادياتو د سيستم د پراختيا، ساتنې او تاسيس مسووليت لري او همدارنګه افغانستان کې د دې سيستم د خدماتو وړاندې کوونکو د ثبت، تنظيم او نظارت مسوول هم دی.
د بُن له کنفرانس وروسته په اقتصادي ډګر کې تر هرڅه مهم د پيسو انتقالات وو، نړۍ چې افغانستان ته مخه کړې وه، سياسي او نظامي حضور يې په افغانستان کې پيدا کړی و، د خپلو ډيپلوماتانو او عسکرو د مصارفو لپاره يې پيسو ته ضرورت درلود، خو دلته په افغانستان کې بانکي نظام تر دې حده کمزوری و، چې له بهره د پيسو انتقالاتو امکان نه درلود. د دې ترڅنګ د افغانستان مالي نظام چې د طالبانو په وخت کې تور لېست ته تللی و، لا هم په تور لېست کې و او بهرنيو بانکونو افغانستان ته پيسې نه انتقالولې. د لنډمهاله ادارې په جوړېدو سره چې د افغانستان ټوله بوديجه هم د بهرنيو هېوادونو له خوا تمويلېده، ضرورت درلود ترڅو پيسې بوديجې ته انتقال شي او د دولت چارې پر مخ لاړې شي. په همدې اساس د افغانستان بانک د پيسو د انتقالاتو لپاره کار پيل کړ، چې لاندې برخې يې درلودې:
- نړيوال تادياتي سيستم
- داخلي تادياتي سيستم
لومړی- په نړيوال تادياتي سيستم کې د غټو پيسو د انتقال لپاره کار وشو، دلته دوې برخې مهمې دي:
۱- له هېواده بهر د پيسو د انتقال سيستم چې د سويفټ((SWIFT (Society for Worldwide interbank Financial Telecommunication) په نوم يادېږي.
۲- له بهرنيو بانکونو سره د حسابونو پرانيستل او د بهرنيو هېوادونو له تور لېست څخه د پخوانيو حسابونو خلاصول/ايستل
سويفټ SWIFT له هېواده بهر د پيسو د لېږد شبکه
له سويفټ شبکې سره بحث او تړون د بهرنيو همکارانو او مشاورينو په مرسته ترسره شو او افغانستان د دې شبکې غړيتوب ترلاسه کړ. په همدې سلسله د بانک ځينو مامورينو ته ټرېنېنګ ورکړل شو، ترڅو دا کار بيا پر مخ بوځي او د پيسو د انتقالاتو پروسه عملاً پيل شوه. جالبه يې دا وه چې افغانستان هېڅ ډول بانکي مقرراتي او نظارتي نظام نه درلود، خو بهرنيو بانکونو د افغانستان بانک ته حسابونه افتتاح کړل او له کوم قيد او خاصو شرايطو پرته يې پيسې انتقالولې، خو اوس د افغانستان د بانکي نظام مقرراتي چوکاټ دومره معياري دی چې په سيمه کې يې ساری کم ليدل کېږي، خو بهرني بانکونه هره ورځ د افغانستان له بانکي نظام سره علاقه پرې کوي. طبعاً چې دليل يې د نړيوالو او پر سر کې د امريکا علاقه او اړيکې دي، چې اوس ډېرې کمې رنګې شوې.

### داخلي تاديات

د داخلي انتقالاتو لپاره يو محدود سيستم چې د مالي متخصصينو او د IT برخې تخنيکي مامورينو په مرسته جوړ شو، رامنځته شو. دغه سيستم درې برخې درلودې:
۱- ای سي اېس اېس((ACSS (Afghanistan Clearing & Settlement (System
۲- د افغانستان د وجوهو د انتقالاتو سيستم يا((AFTS (Afghanistan Funds (Transfer System
۳- د انفرادي معاشاتو سيستم يا ((ISP (Individual Salary Program))

### ای سي اېس اېس سيستم

دغه سيستم په ۲۰۰۴ز کال کې د تجارتي بانکونو ترمنځ د معاملاتو د ترسره کولو لپاره جوړ شو؛ لکه څنګه چې مو پورته وويل دا سيستم د افغانستان بانک لخوا په مخ وړل کېږي. په دغه سيستم کې غټ او واړه ټول مالي معاملات ترسره کېږي، تجارتي بانکونه د دغه سيستم ونډه لرونکي دي، البته په ۱۳۹۲ کال کې مو د ماليې وزارت له عوايدو او ګمرکونو سره تفاهمنامه لاسليک کړه، چې د عوايدو راټولولو لپاره له دغه سيستم څخه هم ګټه واخلي. اوسمهال ماليې وزارت د ګمرکونو د عوايدو برخې د هېواد په ۱۵ ګمرکونو کې له دې سيستم څخه استفاده کوي(ښايي دا شمېر به اوس نور هم زيات شوی وي). په دغه سيستم کې يورو، ډالر او په افغانيو پيسو معاملات ترسره کېږي. البته د افغانستان بانک د ټولو هغو اداراتو څخه چې دا سيستم استعمالوي، کمېشن يا اجوره اخلي. په دغه سيستم سره مو د افغانستان د پيسو د انتقالاتو سيستم چټک، ګټور، خوندي او له خطرونو خلاص کړ، چې اساسي موخې يې:
- په برقي شکل د عوايدو راټولول او د نغدو پيسو کمښت، ترڅو تر ډېره د فساد مخنيوی وشي
- د حساب ورکونې او شفافيت فرهنګ عامول

### - د زيات وخت او بېروبار مخنيوی

-د هېواد په کچه د بانکي نظام فعاليت پراخول دا اهداف مو لاسته راوړل او د افغانستان بانکي نظام مو د پرمختګ او عصري کېدو پر لور روان کړ.

### د افغانستان د وجوهو د انتقالاتو سيستم يا (AFTS (Afghanistan Funds Transfer System

لکه څنګه چې مو پورته يادونه وکړه، چې د افغانستان بانک کوم نړيوال معياري سيستم نه درلود، خو د طالبانو له سقوط وروسته بېړه او اړتيا زياته وه. په همدې اساس د احتياجاتو د رفع کولو لپاره په بېړه کارونه ترسره کېدل او وروسته بيا په اساسي کارونو کار کېده. په همدې اساس د افغانستان بانک د نمايندهګيو تر منځ د معاملاتو ترسره کېدو او تصفيې لپاره چې پخوا د ټېلګرام يو زوړ سيستم استعمالېده او په دغه وخت کې ډاډمن سيستم نه و، پر ځای يې نوی سيستم چې د اې اېف ټي اېس يا AFTS په نوم يادېده، جوړ شو. البته دا هم په ټولو معيارونو جوړ سيستم نه و، چې وروسته مو بيا په بل سيستم بدل کړ، چې يادونه يې وروسته راځي.

### د انفرادي معاشاتو سيستم يا ((ISP (Individual Salary Program))

په دولتي ادارو کې د معاشات تل يوه ننګونه وه او تر اوسه هم دا ستونزه نه ده حل شوې. پخوا به (چې له بده مرغه په يو شمېر دولتي ادارو کې اوس هم شته) دولتي ادارو کارمندانو ته معاشونه يوه شخص ته چې تحويلدار/خزانه‌دار په نوم يادېده، سپاره او بيا به هغه په فزيکي شکل دغه معاشونه تاديه کول. په دغه سيستم کې د فساد ترڅنګ لوی خطر هم موجوده و، چې هرې دولتي ادارې شکايت کاوه. د افغانستان بانک په پيل کې په ابتدايي ډول د انفرادي معاشونو پروګرام پيل کړ چې هرچاته دولت مستقيم معاشونه ورکړي. دا پروګرام د اې اېس پي په نوم يادېده چې بيا وروسته بانکونو ته پراخ او هر مامور ته مستقيم حساب پرانيستل شو.

### ويسټرن يونين Western Union

ويسټرن يونين د پيسو د انتقال يوه نړيواله شبکه ده، چې د لږ پيسو لپاره استعمالېږي. دا چې افغانستان د محدود بانکي نظام په اساس د پيسو د انتقالاتو لپاره محدود امکانات درلودل او بل طرف ته ډېر افغانان چې له هېواده بهر اوسېدل، خپلو کورنيو او دوستانو ته د پيسو د انتقال لپاره صرافان (حواله) او يا هم د ګاونډيو هېوادونو مالي نظام يې استعمالوه، نو په دې اساس په افغانستان کې د ويسټرن يونين خدمات وړاندې کول اړين وو، ترڅو مو يو طرف ته هېوادوالو ته آسانتياوې برابرې او بل طرف د افغانستان په اسعاري زېرمو کې مو د زياتوالي او د افغانيو د ثبات لپاره مو وسيله پيداکړې اوسي. د افغانستان ټول بانکونه په دې وتوانېدل چې دا غړيتوب ترلاسه او له دې لارې د انتقالاتو خدمات عرضه کړي. اوس د افغانستان په هر ولايت کې د ويسټرن يونين شبکې خدمات شته او خلک پرې پيسې انتقالولی شي. په لومړي ځل دا خدمات په ۲۰۰۴ز کال کې پيل شول.

### د افغانستان د تادياتو سيستم يا APS

په دې کې شک نشته چې په افغانستان کې بانکداري وه، خو په هغه کچه پرمختللې نه وه؛ لکه، په نوره نړۍ کې چې له مختلفو محصولاتو برخمنه ده. په بانکي نظام کې تر ټولو مهمه برخه د تادياتو نظام دی. دا که د صادراتو او وارداتو د تصفيې لپاره وي او که د هېواد د ننه د پيسو تاديات اوسي. له بده مرغه په افغانستان کې نظام ټول نغدي و، ټولې معاملې په نغدو اجرا کېدې، بانکي خدمات په تادياتو کې معمول نه وو، ان په دولتي ادارو کې به چې داوطلبي کېده، د بانک ګرنټي معمول څه، چې ان نه منل کېده، بلکې نغدي تضمين به يې اخيست. په دې برخه کې د فساد او شفافيت نشتوالي ترڅنګ خطرونه هم ډېر زيات وو، ان د ژوند خطر. ډېرو خلکو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ. سره له دې چې د نوې بانکدارۍ له پيل سره د انتقالاتو لپاره سويفټ شبکه بانکونو راوړه، ويسټرن يونين هم فعال شوی و او ان د تنخواګانو د تاديې لپاره به بانکي حسابونه پرانيستل کېدل، همدارنګه په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کې يوه پروژه چې (Individual Salary Program (ISP يا د انفرادي تنخوا پروګرام په نوم يادېده، هم پيل شوه چې پورته مو يې يادونه وکړه او په پيل کې د داخلي انتقالاتو لپاره چې د Afghanistan Clearing & Settlements System (ACSS) په نوم يادېده جوړ شوی و، خو د بين البانکي تادياتو او تصفيوي سيستم چې اتومات صرافي ماشينونه، واړه د خريدارۍ يا POS ماشينونو سره وصل او بيا يې د افغانستان بانک له لارې تصفيه او تسويه کړي او يا نړيوال کرېډټ کارتونه په دغه سيستم کې کار وکړي، موږ نه درلود. له نړيوال بانک سره مې په دې اړه هغه وخت بحث وکړ، چې زه د افغان ملي بانک رييس وم. هغوی راسره د تمويل او تخنيکي مرستې ژمنه وکړه، البته په دې شرط چې د افغانستان بانک اعتراض ونه لري. په ۲۰۱۰ز کال کې مې د افغانستان بانک منظوري واخيسته او دا سيستم مو لومړی په افغان ملي بانک کې عملاً پيل کړ چې وروسته يې نورو تجارتي بانکونو هم غړيتوب واخيست او نن د افغانستان د تادياتو د سيستم يا Afghanistan Payment System (APS) په نوم يادېږي چې پورته ټول تادياتي خدمات عرضه کوي.
موبايل مني ( د ټيليفون له لارې بانکداري)
موبايل مني يا د ټيليفون له لارې بانکداري سره له دې چې په ډېرو پرمختللو او هېوادونو کې نشته، ان په ډېرو محدود هېوادونو کې په درېيمه نړۍ کې ليدل کېږي چې هند او کينيا يې بهترينې بېلګې ښودلې شو. دا خدمات په هغو هېوادونو کې چې مالي خدماتو ته لاسرسی سخت وي، نو دا يوه ګټوره لاره ده. موږ په افغانستان کې څو مخابراتي شرکتونو ته د دې خدماتو جواز ورکړی و، چې اوس دا لاندې خدمات عرضه کوي:
- په بانک کې داخلي انتقالات (له يوه حساب څخه بل حساب ته)
- کرېډېټ کارت اخيستل
- د برق بل تاديه کول
- له بانک څخه بانکي صورت حساب او چک بک غوښتل
- د معاشاتو تاديه او د وړو پورونو د قسطونو تاديات
- د پيسو انتقالات او داسې نور.

### (ATS) سيستم (Automated Transfer System)

د افغانستان بانک لپاره ابتدايي محاسبوي او راپور ورکونې سيستم چې ويرمتي په نوم يادېده، د امريکا د پراختيايي ادارې يا USAID په مالي مرسته اخيستل شول و. زه چې کله د افغانستان بانک ته د مرستيال په توګه لاړم، نو تجربه مې په دې برخه کې کافي زياته شوې وه او دا راته معلومه شوې وه چې ياد سيستم د افغانستان بانک يعنې د مرکزي بانکونو لپاره نه، بلکې د تجارتي بانکونو لپاره ډيزاين شوی سيستم دی، په همدې دليل موږ د افغان ملي بانک لپاره هم واخيست. بل دليل دا و، چې دا سيستم د ابتدايي کارونو لپاره و. اوس نو زه په دې پوهېدم چې موږ د افغانستان بانک لپاره داسې سيستم ته ضرورت لرو چې نه يوازې محاسبوي سيستم او راپورونه جوړ کړي، بلکې موږ داسې سيستم ته ضرورت لرو چې د حسابونو تصفيه په يوه وخت کې وکړي، بين‌البانکي حسابونه تصفيه کړي، نظارتي برخه کې مرسته وکړي، زموږ په ملي ذخيرې کې د مديريت لپاره ګټور وي، د چکونو معياري تصفيوي سيستم ولري او ټول ضرورتونه د يوه معاصر مرکزي بانک پکې ځای په ځای شوي وي. په همدی دليل مو له نړيوال بانک سره په همدې برخې بحث وکړو او هغوی راسره د دې په تمويل کې ژمنه وکړه چې بيا مو دا برخه عملاً پيل کړه.
دا سيستم دوه انتقالي سيستمونه لري:
۱. په يو وخت کې د تصفيې سيستم چې د RTGS په نوم يادېږي
۲. د چکونو د تصفيې سيستم چې د ACH په نوم يادېږي
لومړی- د بين‌البانکي معاملاتو تصفيه، د اسعارو اخيستل او خرڅول، د بهادار پاڼو تصفيه، د ای سي اېچ يا چکي معاملات تصفيه او همدارنګه هغه معاملات چې د افغانستان د تادياتو په سيستم يا APS کې ترسره کېږي، تصفيه کوي.
دويم- د وړو بانکي معاملاتو اجرا کول، مستقيم ډېبټ او د الکترونکي چکونو تصفيې ترڅنګ جمعي معاملات؛ لکه معاشات.
البته دا اوږده پروژه وه او تطبيق يې ډېر وخت ته ضرورت درلود. زه فکر نه کوم چې دا برخه تر اوسه هم مکمله فعال وي، البته زياتې برخې يې فعالې دي.
((CSD (Central Security Depository)
دا سيستم مو د دولتي بهادار پاڼو د تصفيې لپاره کار ورکوي چې ټول بهادار معاملات ثبتوي. اخيستل او خرڅول او تصفيه د دې پاڼو له لارې ترسره کېږي. په CSD کې د ټکټاني سنجش او د وخت يا مودې پوره کېدل هم ثبتېږي. لنډه دا چې هر هغه څه چې د اسناد بهادار پورې تړلي وي، په دغه سيستم کې اجرا کېږي.

# ایا «سخت دریځی» ابراهیم رئیسي به د ایران راتلونکی ولسمشر وي؟

بي‌بي‌سي- پښتو

په ایران کې محافظه کار له هغه وروسته یو څه ډاډه دي، چې د عدلیې مشر ابراهیم رئیسي د جون ولسمشریزو ټاکنو لپاره کاندید شو.
د ایراني محافظه کارو په ډله کې له سیاسي ځواکه برخمن رئیسي تر ټولو مشهور کاندید دی او داسې ښکاري چې نوموړی به د دې کسانو پوره ملاتړ ولري.
داسې فکر کېږي چې نوموړی به د ۸۲ کلن مذهبي مشر ایت الله خامنه‌یي ځایناستی وي، چې دی یې ۲۰۱۹ کال کې د عدلیې مشر په توگه گومارلی و.
د دولتي رسنیو تر څنگ، هغو رسنیو کې هم د نوموړي لپاره ملاتړ لیدل کېږي چې ځواکمن (اسلامي انقلابي ځواک) ته نږدې دي.
که څه هم پر ایراني نظر پوښتنو باور نه کېږي، خو وروستۍ نظر پوښتنې نوموړی د نورو کاندیدانو په پرتله مخکښ ښیي. نوموړي لومړی ځل د ۲۰۱۷ کال په ټاکنو کې بخت ازمایلی.
خو ابراهیم رئیسي هغه مهال د اوسني ولسمشر حسن روحاني پر وړاندې ماتې خوړلې وه، ځکه ښاغلي روحاني د منځلارو او اصلاح غوښتونکو پراخ ملاتړ تر لاسه کړی و.
رئیسي په هغو ټاکنو کې د ۱٦ میلیونو رایو له تر لاسه کولو وروسته دویم ځای خپل کړی و، خو سیال یې نږدې ۲۴ میلیونه رایې تر لاسه کړې وې.
سږ کال حالت کې بدلون راغلی. هغوی چې روحاني ته رایې ورکړې، له اصلاح غوښتونکو او منځلارو مایوس شوي دي. ډېر خلک د ایران اقصادي ستونزو له کبله حکومت پړ بولي.
د دغه هېواد ستونزې له هغه وروسته لا زیاتې شوې چې د امریکا متحد ایالتونه د ۲۰۱۵ کال د ایران اټومي پروگرام له هوکړې پر شا شول.
د هغې هوکړې په هکله اوس د ایران او نړۍ ځواکمنو هېوادونو تر منځ په ویانا کې خبرې رواني دي، خو که له جون میاشتې مخکې هم په دې هکله څه پرېکړه کېږي، د ټاکنو پر پایلو به یې اغېز ډېر جوت نه وي، ځکه ولس ته به د احتمالي هوکړې گټه رسېدل وخت واخلي.
تېرو ۲۵ کلونو کې د ایران پېچلي سیاسي چاپېریال کې ولسمشریزې ټاکنې د سیاسي چارو شنونکو لپاره د حیرانۍ لامل شوې دي.
تر اوسه دا هم مالومه نه ده چې د ټاکنو چارو څارونکې ډله (شورای نگهبان) به څومره کسانو ته په ټاکنو کې د کاندید په توگه د برخه اخیستو اجازه ورکړي. خو په ظاهره داسې ښکاري چې د روحاني حکومت اړوند اصلاح غوښتونکو په پرتله به د رئیسي لپاره احتمال زیات وي.
په هر صورت، تر ولسمشرۍ پورې به د ښاغلي رئیسي لپاره لار اسانه نه وي او نوموړی به د راتلونکي کمپاین او مناظرو لړ کې د سیالو کاندیدانو له لوري له زیاتو ننگونو سره مخامخ شي.
د اقتصاد او ټولنیزو اصلاحاتو اړوند مهمو ژمنو په پوره کولو کې له ناکامۍ وروسته د ښاغلي روحاني پر هغو اصلاح غوښتونکو پلویانو نیوکې ډېرې شوې، چې ۲۰۱۳ او د ۲۰۱۷ کلونو ټاکنو کې یې د نوموړي ملاتړ کړی و.
منځلاري او اصلاح غوښتونکي د اټومي پروگرام هوکړې مهم ملاتړي وو، چې د روحاني حکومت له مهمو لاسته راوړنو یوه ده.
خو له هغه وروسته چې د امریکا مخکینی ولسمشر ډونالډ ټرمپ له هغې هوکړې په شا شو او پر تهران یې بېرته بندیزونه سخت کړل، پر منځلارو او اصلاح غوښتونکو ایراني سیاستوالو فشارونه ډېر شول.
اصلاح غوښتونکي له ټاکنو مخکې پر رایې ورکوونکو اغېز کې هم پاتې راغلي.
دا د ۲۰۲۰ کال پارلماني ټاکنو کې هم ثابته شوه، چې د ۱۹۷۹ کال له انقلاب وروسته پکې د گډون کچه د بل هر وخت په پرتله ټیټه وه.
د اصلاح غوښتونکو ډله چې د هم‌فکره گوندونو لپاره د یوه سیاسي چتر په مانا بلل کېږي، ښايي اسحاق جهانگیري د خپل کاندید په توگه وړاندې کړي چې لا مخکې یې نوملیکنه کړې.
جهانگیري یو مهال د حسن روحاني د ملاتړو منځ کې ډېر محبوبیت درلود، خو دا وروستیو کلونو کې یې محبوبیت ځکه بایلود چې د بې گټې اقتصادي پرېکړو تور پرې ولگېد، چې له کبله یې د ایراني پیسو ارزښت ټیټ شو او له همدې کبله داسې فکر کېږي، چې په مناظرو کې به د نورو کاندیدانو لپاره پر ده اعتراض اسانه چاره وي.
ایا محافظه کاران یو موټی دي؟
له ټاکنو مخکې د محافظه کارو د یو ځای کولو په پار دوه مهم مرکزونه فعال وو، چې یو یې د ایران اسلامي انقلاب ځواکونو ائتلاف شورا (سي سي ایف ای ار) او بل هم (پي یو سي) په نامه چتر دی.
سي سي ایف ای ار خو د ۲۰۱۹ کال له ډسمبر راهیسې فعال دی چې د مجلس مخکینی مشر او سیاستوال غلام علي حداد عادل یې مشري کوي.
پي یو سي بیا ۲۰۲۰ کال کې تاسیس شو چې د مبارزو روحانیونو انجمن یې مشري کوي او د مشهورو محافظه کارو روحانیونو ډله ده.
مشهور محافظه کار مذهبي مشر ایت الله محمد علي موحدي کرماني د دې ډلې مشر دی او منوچهر متقي د دې ډلې ویاند دی، چې د مخکیني ولسمشر محمود احمدي نژاد په حکومت کې د بهرنیو چارو وزیر و.
سي سي ایف ای ار ډلې د کاندید په توگه د رئیسي ملاتړ اعلان کړی او له محافظه کارو یې غوښتي چې د نوموړي ملاتړ وکړي. متقي د مې لومړیو کې ویلي وو چې رئیسي د دې گروپ وروستی انتخاب دی.
داسې باور کېږي چې ډېری محافظه کار کاندیدان به د رئیسي په حق کې له سیالۍ لاس پر سر شي. خو له دې سره سره هم رئیسي د نورو کاندیدانو له لوري له ننگونو سره مخ دی، چې د پارلمان مخکینی مشر علي لاریجاني هم پکې شامل دی.
نوموړی منځلاری محافظه کار بلل کېږي او اصلاح غوښتونکو او منځلارو ځینو ډلو ته نږدې کس دی.
لاریجاني چې د ایران د مذهبي مشر سلاکار دی، تکړه ویاند هم بلل کېږي او داسې احتمال شته چې د کمپاین اوږدو کې به د رئیسي په پرتله مخکې وي.
ځینې شنونکي په دې اند دي چې اوسنیو شرایطو ته په کتو داسې نه ښکاري چې ټاکنې دې د ډېرو رایې ورکوونکو لپاره احساس پاروونکې وي او یا دې یو لوریزې پایلې ولري.
د دولتي رسنیو له نظر پوښتنو هم داسې ښکاري چې په ټاکنو کې به د رایو ورکوونکو شمېر خورا ډېر نه وي. بل لور ته د تېرو دریو لسیزو ټاکنو کې د خلکو لږ گډون د محافظه کارو د بري لامل شوی.
په داسې حال کې چې اصلاح غوښتونکو په خپلو ټاکنیزو حوزو کې ملاتړ له لاسه ورکړی، هغه نظام پلوي رایې ورکوونکي چې په هر ډول حالت کې رایې ورکوي، اوس هم د محافظه کارو ملاتړ کوي.
دې سره ښايي د رئیسي لپاره نوره هم لار هواره شي چې د ځینو په اند د کم رنگه سیالۍ په پایله کې به د ایران د اتم ولسمشر په توگه وټاکل شي.

# د بهرنیو ځواکونو وتل؛

## عام افغانان: امریکایي ځواکونو ناورین جوړ کړی، ژر وتل یې د هېواد په گټه دي



له افغانستان د امریکایي ځواکونو د وتلو سره هممهاله په دې اړه په نړیوالو او سیمه ییزو رسنیو کې ډول ډول تحلیلونه خپرېږي. ډېری رسنۍ په دې باور دي چې له افغانستان د ځواکونو ایستل به دلته د یوې بلې کورنۍ جگړې د پیل سبب شي، خو ډېری شنونکي او د چارو پوهانو بیا دا نظر لري چې که د سولې پروسه بریا ته ورسول شي نو د بهرنیانو وتل به د دایمي ثبات او سولې سبب شي.
ځینې سیاسي څېرې بیا د بهرنیو ځواکونو وتل په افغانستان کې د گاونډیو مداخلې ته د زمینه برابرېدو په مانا بولي. عام افغانان بیا له افغانستان د سرتېرو وتل د هېواد په خیر بولي.
مشهوره امریکایي ورځپاڼه نیویارک ټایمز وایي چې بایډن له افغانستان د سرتېرو دایستلو په برخه کې په حقه دی. دغه ورځپاڼې په یوه اوږده تحلیل کې ویلي چې بایډن د ټرمپ له ډېرې پرېکړو سره مخالفت وکړ او دا نظر هم و چې ښايي د سرتېرو د ایستلو له پرېکړې سره یې هم مخالفت وکړي خو هغه په امریکا کې د ننه په دې موضوع د سیاسي اجماع موجودیت ته په کتو مخالفت و نه کړ. سرچینه کاږي سره له دې چې امریکایي سناتورانو د سرتېرو د ایستلو په مسئله کې د احتیاط سپارښتنه کوله خو بایډن پر خپل دریځ ولاړ و او د سرتېرو د ایستلو پرېکړه یې وکړه.
ورځپاڼه په مطلب کې وړاندې زیاتوي چې په امریکا کې د سرتېرو پر ایستلو شته سیاسي اجماع ته په پام داسې ښکاري چې بایډن په خپله پرېکړه کې په حق دی او هغه به بریالی شي چې په ټاکلې موده خپل سرتېري له افغانستان وباسي. د سرچینې په خبره ((د سرتېرو د ایستلو په تړاو په امریکا کې په لوړه کچه اجماع موجوده وه. همدې اجماع ته په کتو بایډن په حقه دی چې د سرتېرو ایستلو ته یې ادامه ورکړه)).
له دې سره جوخت په افغانستان کې د ننه سیاسي څېرې او عام افغانان په دې باور دي چې د امریکایي ځواکونو حضور دلته د جگړو او دربدریو سبب و او څومره ژر چې دغه سرتېري له افغانستان وځي دومره د افغانانو په گټه دي. دوی په رسنیو کې د څرگندونو پر مهال خوښي ښیي چې بهرني ځواکونه له هېواد وځي او دلته د سولې لپاره هڅې پایلې ته رسول کېږي.
بلخوا ځینې د نړیوالو مسایلو څارونکي او سیاسي څېرې په دې باور دي چې د بهرنیو ځواکونو وتل به په افغانستان کې د گاونډیو هېوادونو د مداخلې لپاره زمینه برابره کړي.
په کابل کې د کاناډا پخواني سفیر به خپلو وروستیو څرگندونو کې ویلي چې پاکستان په افغانستان کې نیابتي جگړه مخ ته وړي او دغه هېواد ته په کار ده چې دغه سلسلې ته د پای ټکی کېږدي او یا دې هم نړیوال په دې اړه اقدام وکړي.
تازه په پښتونخوا وتلي سیاستوال محمود خان اڅکزي هم پر نړیواله ټولنه غږ کړی چې گاونډیان دې د افغانستان په چارو کې له مداخلې را وگرځوي. نوموړي د جگړې له ښکېلو اړخونو ځانگړې توگه له وسله والو طالبانو غوښتي چې تاوتریخوالی بند کړي.
اڅکزي ویلي، چې نړۍ نن د پوهې هغې کچې ته رسېدلې ده چې د ښکلا لپاره ان وحشي ژوي لا نه وژني خو په وینا یې افغانان هره ورځ وژل کېږي خو څوک یې په کیسه کې هم نه دي. هغه په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي لامل د گاونډیو هېوادونو لاس وهنه بللې او زیاته کړې یې ده چې که چېرته گاونډي هېوادونه د افغانستان ناامنۍ ته لمن ووهي نو دغه اور به د دوی لمنو ته هم ورسېږي.
تر دې وړاندې د پاکستان د ملي اسامبلې غړي محسن داوړ هم په دې اړه څرگندونې کړې وې او د پاکستان حکومت یې ملامت بللی و چې په افغانستان کې د ترهگرو ډلو ملاتړ کوي او په پاکستان کې یې د شته مرکزونو به تړلو کې ناکام دی.

# له اوربند تازه سرغړونې؛

## د اسراییل او فلسطین ترمنځ د اوربند له اعلان سره سره، دواړو لورو له یوبل سره تازه نښتې کړې


د فلسطین او اسراییل ترمنځ د غزې د جگړې پر سر وړمه ورځ اوربند اعلان شو، خو له هغې راهیسې له اوربنده څو ځله سرغړونه شوې ده.
تر اوربند وروسته په اقصی جومات کې د جمعې له لمانځه وروسته زرگونه اعتراض کوونکي او اسراییلي پولیس سره ونښتل. اقصی جومات چې د بیت المقدس په ختیځ کې پروت دی، مسلمانانو او یهودانو دواړو ته تقدس لري.
د اسراییل پولیسو ویلي، چې د اقصی جومات په محوطه او شاوخوا سیمو کې ناارامۍ رامنځته شوې، چې دوی یې د پراختیا د مخنیوي لپاره سملاسي او په ټول قوت سره لاس په کار شول.
که څه هم اسراییلي لوری د دغو شخړو تحریک کوونکي فلسطینیان بولي، خو فلسطینیان بیا وایي، اسراییلي پولیسو غوښتل چې په جگړه کې د ماتې غچ په اقصی جومات کې له لمونځ کوونکو واخلي.
نړیوالو خبري اژانسونو ویلي چې د دغو شخړو پرمهال اسراییلي پولیسو اوښکې بهوونکی گاز او صوتي بمونه کارولي دي. فلسطینیان له هغو اسراییلي پولیسو سره نښتي وو چې د اقصی جومات محوطې ته ننوتلي وو.
په ورته مهال د امریکا ولسمشر جو بایډن د مصر په منځگړیتوب د فلسطین او اسراییل ترمنځ اوربند ستایلی او ویلي یې دي چې دا گام د دوی، مصر، فلسطیني ادارې او د منځني ختیځ د یو شمېر نورو هېوادونو د لوړې کچې خبرو په پایله کې رامنځته شوی دی.
بایډن ویلي چې د دغو هڅو په ترڅ کې یوازې ده خپله شپږ ځله د اسراییلو له لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو او د فلسطیني ادارې له مشر محمود عباس سره خبرې کړې دي.
اسراییل وایي، د تېرو ورځو جگړو پرمهال یې حماس ډلې ته سخت زیانونه اړولي، خو وایي دا ډله لا هم پر اسراییلو د توغندیزو بریدونو وړتیا لري. حماس بیا داسې مهال دې جگړه کې د بریا ادعا کوي چې په غزه کې ډېرو کورنیو خپل خپلوان له لاسه ورکړي او کورونه او کاروبارونه یې زیانمن شوي دي.
د یادونې ده چې د اسراییل او فلسطین ترمنځ د ۱۱ شپو ورځو جگړې پرمهال ۲۳۲ فلسطینیان او ۱۲ اسرایلیان وژل شوي دي.
اروپایي ټولنې، روسیې او چین هم د دواړو لوریو ترمنځ د اوربند هرکلی کړی دی.

## د کتــاب خبــري

## د جاسوسی پېښلړ
## RAW, ISI
## او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

**شپږمه برخه**
**نوې لویه لوبه**




**۲۹**
**پوتین، د پاکستان ملګری**

سېنها: روسیه کولای شي د پاکستان او هند په پرمختګ کې مرسته وکړي؟
دولت: روسیه دا کار کولای شي، خو هغوی یې نه کوي، د هغوی او د لوی پوتین په هکله چې څوک هر څومره پوهېږي. هغه به خوښ وي چې دغه ووینې.
موږ د روسیې سره ښې اړیکې درلودې. زه اوس هم په دې باور یم چې موږ ورسره اړیکې لرو، خو نه پوهېږم. هلته روسي سفیران شته، چې په ډیلي کې یې کارونه کړي دي. هغه چې په وروستیو کې مړ شو، (الکساندرمیخایلویچ)، کاداکین او ډېر هغه چې له KGB سره د کار تجربه لري. کاداکین او له هغه مخکې سفیر لکه پوتین دا تجربه درلوده.
د یلڅین په وخت کې هر څه بدل شول. د سړې جګړې جنګیالیو چې د دوی پرخلاف جنګېدل، داسې احساس کاوه چې خپل اهمیت له لاسه ورکوي. د KGB هغه زاړه خلک د ساحل په غاړه له اوسېدو سره آموخته وو چې آرامه او مستریح ژوند یې درلود. په مسکو کې د دوی لپاره د سړک په منځ کې یو خط ځانګړی شوی دی. یوازې هغه کسان چې ښه موټر لري پرې تېرېدلی شي.
شوروي اتحاد هغسې لکه چې د (۱۹۷۱ . ز)کال په جګړه کې یې له هند څخه ملاتړ کولو، اوس له منځه تللی دی. د اندیرا ګاندي په وخت کې دا اړیکې ښې وې، د راجیو ګاندي په وخت کې لږ څه ټکنې شوې، خو ان د واچپای په وخت کې هم ښې وې.
کله چې زه مسکو ته لاړم، د استخباراتو مشر تروبنیکوف و، هغه راته وویل، د روسیې، چین او هند د ګډو استخباراتي ډلو په هکله څه فکر کوې؟ ما ورته وویل، دا ډېر ښه نظر دی، زموږ ترمنځ کومه ستونزه نشته، خو چینایان به څنګه غبرګون وښیي؟ تروبنیکوف وخندل او وې ویل: چینایان موږ ته پرېږدئ، تاسې د پاکستانیانو د غبرګون په هکله فکر وکړئ. موږ وخندل او موضوع همالته پاتې شوه.
کله چې زه چین ته لاړم، ما دا موضوع هلته یاده کړه.چینایانو په خپله معموله بڼه وویل: «ډېر ښه نظر دی، موږ به یې په هکله څېړنه وکړو.» لکه دا مسئله چې یوه پوهنتون ته د څېړنې لپاره واستول شي.
روسانو هر کله زموږ د اړیکو په جوړېدو که ډېر څه کړي دي. تروبنیکوف د ډیلي په ایڅوستیا کې و، لس کاله وروسته د سفیر په توګه هلته راغلی او په دې منځ کې یې د استخباراتو د مشر په توګه په مسکو کې کار کړی و. کله چې پوتین له یلڅین څخه واک ترلاسه کړ، تروبنیکوف پرمختګ وکړه او د بهرنیو چارو وزیر وټاکل شو. هغه ډیلي ته راغی، زه په RAW اداره کې وم. ما ورته وویل رئیسه! ته خو اوس مشر رئیس شوی یې، څنګه احساس لرې؟ هغه وویل: ښه احساس نه لرم، ځکه هېڅ رښتوني نه دي.
تروبنیکوف ډیلي ته د استخباراتو د مشر په توګه راغلی و او غوښتل یې چې له واچپای سره ووینې. ما ورته وویل، واچپای له استخباراتي مشرانو سره نه ګوري. هغه وویل ستا له یاده وتلي چې ته مې پوتین ته د لیدلو لپاره وروستلې؟ ته باید واچپای ته ووایې چې ته ما پېژنې او زما سره د په ایڅوستیا کې مرکه کړې ده. واچپای هم خوښ شو او له تروبنیکوف سره یې ولیدل.
هغه څه چې سم نه وو دا وو، چې موږ له خپلې هستوي معاملې وروسته له امریکایانو سره ډېرې اړیکې جوړې کړې او روسانو داسې وانګېرله چې ګواکې دوی مو هېر کړي دي. دا چې پوتین په واک کې دی او ډېر خلک په دې اند دي، چې د نړۍ ځواکمن کس دی، هغه احمقانه کارونه نکړي. هغه به وایي: که چېرې تاسې له امریکایانو سره ځانګړې اړیکې لرئ، نو موږ به ستاسې له ملګرو سره ملګري وکړو.
سېنها: له ځواکمن کس سره ناسته څه وه؟ پوتین یوازینی څوک و، چې د حکومت مشري وکړي؟
دوراني: اندروپوف. مشر بوش.
دولت: پوتین لومړی وزیر و.آرام، سم او ډېر څه یې نه ویل. تروبنیکوف ژباړه کوله او نژدې له (۳۰)دقیقو یوازې (۱۲)دقیقې وغږېدلو. موږ څنګه ځانګړې اړیکې لرو، د هند ملګرتیا موږ ته څومره ارزښتمنه ده او د داسې نورو څېزونو په هکله مو خبرې وکړې.
په مسکو کې چې زه له یو څه سره مخ شوم، هغه د ځواک اهمیت و. تروبنیکوف سره له دې چې په KGB کې و، خو بیا هم یلڅین ته ډېر نژدې و. یوه ورځ په ډیلي کې موږ د غرمنۍ لپاره په تاج هوټل کې وو. له سهار راهیسې ما پیغام ترلاسه کولو چې د تروبنیکوف ګېډه خرابه ده. په (۱:۳۰) بجه یې بیا راته وویل چې د هغه ګېډه اوس ښه ده. زه چې کله تاج هوټل ته لاړم هغه مې و پوښت، چې اوس ښه دی او کنه. هغه وویل ښه یم، نن د یلڅین کلیزه ده، زه مخکې له دې چې له تا سره وغږېږم له هغه سره وغږېدم.
روسان همدغه څه لري، دوی هر وخت ګوري چې ځواک له چا سره دی. هغوی ته کنټرول مهم دی. تروبنیکوف له مانه یوه عجیبه و غریبه پوښتنه وکړه: تاسې د وسلو خرڅلاو کنټرولوی؟ ما وویل نه. ښه موږ یې کوو او تاسې یې هم باید وکړئ، د وسلو خرڅ او اخیستل باید ستاسې تر کنټرول لاندې وي.
**دوام لري...**

# فانوس د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




فانوس د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۹۳ کال کې یې د بنسټ ډبره کېښودل شوه. د یادې موسسې د علمي معاون ښاغلي ګل الرحمن اخګر په وینا، دوی د پیل پر مهال یوازې د ژورنالېزم پوهنځی درلود، چې دوه دېپارتمنتونه، راډیو- ټلوېزیون او عامه اړیکې یې درلودل، خو په ۱۳۹۴ کال کې یې له لوړو زده کړو وزارت څخه د دوو نورو پوهنځیو، حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد جواز هم تر لاسه کړ. د نوموړي په وینا، اقتصاد پوهنځی یې څلور دېپارتمنتونه (مالي او اقتصادي چارې، اداره او تشبیثات، احصایه او اېکانومتري او ملي اقتصاد) لري. حقوق او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه دېپارتمنتونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) لري.
ښاغلي اخګر زیاته کړه، دوی له پیل څخه تر دې دمه شاوخوا ۲۰۰۰ محصلین جذب کړي چې له دې ډلې یې له ۳۰ تر ۳۵ سلنې پورې ښځینه محصلینې او پاتې نور یې هلکان دي. د نوموړي په وینا، فانوس د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال شاوخوا ۱۴۰۰ محصلین لري چې په یادو شوو دریو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي.
ښاغلي اخګر همدا راز وویل، دوی په فانوس د لوړو زده کړو موسسه کې تر دې دمه د ماسټرۍ پروګرام نه لري، خو تمه ده چې راتلونکی کال د اقتصاد پوهنځي په MBA څانګه کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي.
د فانوس د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون ګل الرحمن اخګر وایي، دوی له پیله تر دې دمه له خپلو دریو پوهنځیو څخه په څلورو دورو کې شاوخوا ۱۵۰۰ محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د ښاغلي اخګر په وینا، فانوس د لوړو زده کړو موسسه هر کال شاوخوا ۶۰۰ نوي محصلین جذبوي او په خپلو دریو پوهنځیو کې ورته د لوړو زده کړو امکانات برابروي.
ښاغلي اخګر وویل، دوی په ټوله کې خپلو محصلینو ته په سمیسټروار فیس کې تر ۴۵ سلنې پورې تخفیف ورکوي او پر دې سربېره، د کمزوري اقتصاد لرونکو، شهیدانو او معلولانو د کورنیو محصلینو ته په کال کې تر څلور یا پنځو پورې وړیا تحصیلي بورسونه ورکوي او د فانوس د لوړو زده کړو په موسسه کې ورته د وړیا لوړو زده کړو اسانتیا برابروي.
ښاغلي اخګر همدا راز زیاته کړه، دوی د ورځې په دوو دورو کې درسي چارې پر مخ وړي، چې یوه یې سهارنۍ او بله یې هم ماښامنۍ دوره ده.
د ښاغلي ګل الرحمن اخګر په وینا، دوی په خپلو دریو پوهنځیو کې ۱۵۰ استادان لري، چې په دې ډله کې شاوخوا ۳۰ سلنه یې د دوکتورا او پاتې نور یې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري. د نوموړي په وینا، د استادانو له ډلې یې ډېرش ښځینه استادانې دي.
ښاغلي اخګر وویل، دوی د فانوس د لوړو زده کړو په موسسه کې د خپلو محصلینو لپاره کتابتون لري، چې د پوهنځیو اړوند ډېر کتابونه پکې دي. پر دې سربېره، دوی الکټرونیکي کتابتون هم لري چې محصلین کولای شي د اړتیا په صورت کې خپل مالومات ترې تر لاسه او مطالعه پکې وکړي.
د ښاغلي ګل الرحمن اخګر په خبره، دوی په هېواد کې د ننه له ځینو پوهنتونونو او علمي بنسټونو سره علمي او اکاډمیکې اړیکې لري او پر دې سربېره یې له هېواده د باندې د ایران او ترکیې هېوادونو له ځینو پوهنتونونو سره هم تفاهم لیکونه لاسلیک کړي، چې پر بنسټ به یې ډېر ژر ځینې محصلین د بورسیو له لارې یادو پوهنتونونو ته ولېږي.
ښاغلي اخګر وویل، دا چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو او پوهنتونونو ته تر دې دمه ډیپلومونه نه دي ورکړل شوي، نو دوی هم خپلو فارغ شوو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي سرټیفیکټونه او ترانسکرېپټونه ورکړي دي، چې محصلین کولای شي له حقوقو څخه یې ګټه واخلي.
د ښاغلي اخګر په وینا، دوی د محصلینو د علمي سویې د لوړاوي په موخه ځینې پروګرامونه لري، چې له دې ډلې یې لنډمهاله کورسونو، علمي سمینارونو او ورکشاپونو، د ظرفیت لوړونې پروګرامونو، د اقتصاد پوهنځي محصلینو ته د عملي کار پروګرامونو، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو ته د حقوقي کلینیک اسانتیا چې تمثیلي محکمې پکې تر سره کوي، د ژورنالېزم محصلینو لپاره د پوهنتون په اړوندو رسنیزو مرکزونو کې د عملي چارو پر مخ بېولو او داسې نورو ته اشاره وکړه.
د فانوس د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول زیاته کړه، دوی د موسسې د لا پرمختګ او ښه والي په موخه ستراتیژیک پلان لري، چې تمه ده ځینې مهم پروګرامونه پکې تر سره کړي، لکه د پوهنځیو زیاتول، د ماسټرۍ پروګرام رامنځته کول، له بهرنیو پوهنتونونو سره د تحصیلي بورسونو په برخه کې تفاهم لیکونه لاسلیکول او داسې نور.
ښاغلی ګل الرحمن اخګر وایي، که څه هم د دولت او لوړو زده کړو وزارت له کړنو خوښ دي، خو له دولت څخه غواړي څو د لوړو زده کړو خصوصي موسسو او پوهنتونونو ته لا ډېره پاملرنه وکړي. د نوموړي په وینا، د لوړو زده کړو ډېری خصوصي موسسې او پوهنتونونه د ودانۍ لپاره خپل شخصي ملکیت نه لري او ډېری یې په کرایي کورونو او ودانیو کې خپلې درسي چارې پر مخ وړي، نوموړي له دولت څخه وغوښتل څو په دې برخه کې لا ډېره پاملرنه وکړي، د لوړو زده کړو خصوصي موسسو او پوهنتونونو ته د ملکیتونو په برخه کې پام وکړي څو هغوی هم خپل تحصیلي فیسونه را کم کړي، چې په دې سره به ډېر مالي ستونزې لرونکي ځوانان وکولای شي چې لوړو زده کړو ته لاره پیدا کړي او د هېواد د خدمت جوګه وګرځي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي دویمه | د ۲۰۲۱ د مي ۲۳مه | ۷۱۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۳۳ | ۳۵ | ۳۳ | ۲۹ | ۲۵ |
| ۱۱ | ۱۹ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۹ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰٦ | لمر ختل ۰٤:٤٦ | ماسپښين ۱۱:٥۱ | مازیګر ۰٤:٤۸ | ماښام ۰٦:٥٥ | ماخوستن ۰۸:۲۹

## نړۍ




له اوربند تازه سرغړونې؛

# د اسراییل او فلسطین ترمنځ د اوربند له اعلان سره سره، دواړو لورو له یوبل سره تازه نښتې کړې ۳

## راپورونه: د امریکا په مینیاپولیس ښار کې د ډزو پرمهال ۱۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د راپورونو له مخې، د امریکا د مینیاپولیس په ښار کې چارواکي وایي یو وسله وال په خلکو ډزې کړې چې له کبله یې دوه تنه وژل شوي او ګڼ شمېر نور یې ټپیان شوي دي. پولیسو ویلي چې پېښه د ښار په مرکزي برخه کې شوې ده.
د ځایي پولیسو او چارواکو په وینا، په ډزو کې ټول ۱۰ تنه لګېدلي چې دوه یې مړه شوي او ۸ یې ټپیان شوي دي. تر اوسه د برید کوونکي په هکله څه نه دي ویل شوي، خو دا کسان د ښار په هماغه برخه کې وژل شوي چې څه موده وړاندې یوه سپین پوستي امریکایي پولیس یو تور پوستی امریکایي، جورج فلویډ پکې وژلی و. د نوموړي له وژنې وروسته په امریکا کې پراخ اعتراضونه پیل شول چې ګڼو کسانو ته پکې مرګ واوښتله. سیمه ییزو چارواکو ویلي چې دواړه وژل شوي کسان نارینه دي او عمرونه یې تر دېرشو کلونو رسېږي.
د یادونې ده چې د ډېریک شاوین په نامه پولیس چې څه باندې ۱۷ کاله یې د مینیاپولیس د پولیسو په ریاست کې دنده کړې وه، ٤٦ کلن جورج فلویډ یې تېرکال په همدې شپو ورځو کې وژلی و. ژوري پلاوي دغه پخوانی پولیس د فلویډ د مرګ په قضیې کې مجرم وباله.

## راپورونه: د نایجیریا د لوی درستیز په ګډون ګڼ کسان د الوتکې د لوېدو په پېښه کې مړه شوي



د راپورونو له مخې، د نایجریا د پوځ لوی درستیز ډګر جنرال ابراهیم اطاهرو د الوتکې غورځېدو په پېښه کې مړ شوی دی. نوموړی د کدونا سیمې ته په رسمي سفر روان و چې الوتکه یې غورځېدلې ده. د یادونې ده چې په دې سیمه کې په دې وروستیو کې ناامني زیاته شوې وه.
د نایجریا پوځ په یوې په اعلامیې کې ویلي، چې الوتکه د کدونا هوایي ډګر ته نږدې غورځېدلې او د پېښې په اړه پلټنې پیل شوې دي. د دغه هېواد ولسمشر محمده بحاري ویلي چې په پېښه کې د پوځ د مشر په ګډون یو شمېر نور کسان هم مړه شوي دي.
د نایجریا د ولسمشر په اعلامیې کې دا یوه غمجنه پېښه بلل شوې او ویل شوي چې دا پېښه په داسې وخت کې شوې چې دغه هېواد له یو لړ امنیتي ننګونو سره مخ دی.
تر دې پېښې شاوخوا درې میاشتې مخکې د نایجریا په ابوجا کې هم د پوځ یوه الوتکه د تخنیکي ستونزو له کبله وغورځېده او اووه کسان پکې مړه شول.
د یادونې ده چې نایجریا د الوتکو د خوندیتوب او مصونیت له پلوه کمزوری هېواد بلل کېږي، سره له دې چې په دې وروستیو کې یې په دې برخه کې ځینې پام وړ پرمختګونه کړي دي.


## حکومت فهرست نام‌های اعضای شورای عالی دولت را آماده کرده‌است



پس از روزها رأی‌زنی دربارۀ چگونگی ترکیب شورای عالی دولت، سرانجام حکومت یک فهرستی را تهیه کرده‌است که در آن نام‌های هژده تن به‌عنوان اعضای شورای عالی دولت دیده می‌شود.
بربنیاد اطلاعات رسیده به رسانه ها، چهارده مرد و چهار زن اعضای شورای عالی دولت استند. در این فهرست نام‌های رئیس‌جمهور غنی، امرالله صالح، سرور دانش، عبدالله عبدالله، حامد کرزی، عبدرب الرسول سیاف، گلبدین حکمتیار، کریم خلیلی، محمد محقق، عبدالرشید دوستم، صلاح‌الدین ربانی، عطامحمد نور، میررحمان رحمانی، فضل هادی مسلمیار، فاطمه گیلانی، حسینه صافی، فوزیه کوفی و حبیبه سرابی به چشم می‌خورند.
شماری از سیاست‌گران با ترکیب ترتیب شده موافق نیستند. سید اسحاق گیلانی، رهبر حزب نهضت همبستگی ملی افغانستان در این باره گفت: «چهره‌هایی که در همین بیست سال در همین چرخ بودند و هیچ تغییر نمی‌کنند. همین‌ها استند و من فکر نمی‌کنم که هیچ ابتکار نوی را این چهره‌ها داشته باشند که حکومت سرپای خود ایستاده شود.»
اما برخی از سیاست‌گران از جمله گلبدین حکمتیار، صلاح‌الدین ربانی و مارشال عبدالرشید دوستم ملاحظاتی در این باره دارند. در پیوند با این ملاحظات حامد کرزی امروز با گلبدین حکمتیار دیدار کرد؛ اما دفتر آقای حکمتیار می‌گوید که او هنوزهم مخالف یک شورای کلانتر از هشت تا ده نفری است.


## ژوند

## په سپټمبر میاشت کې نوی آیفون بازار ته راځي



آیفون کمپنۍ هر کال د سپټمبر په میاشت کې د آیفون لړۍ نوي موبایلونه معرفي کوي، خو تېر کال د کرونا ویروس له امله د دغو ځیرکو موبایلونو د معرفي کېدو غونډه په بیا بیا ځلي وځنډول شوه. خو اوس افشا شویو معلوماتو کې ادعا شوې چې اپل کمپنۍ سږکال یو ځل بیا د سپټمبر په میاشت کې د آیفون۱۳ نوي ځیرک موبایلونه کاروونکو ته معرفي کوي. د دغو معلوماتو پر بنسټ، دغه ځیرک موبایلونه به د سپټمبر میاشتې منځنۍ لسیزه کې د یوې رسمي غونډې له لارې مینه‌والو ته معرفي او د خرڅلاو نېټه به یې په ډاګه شي. اپل کمپنۍ به دا ځل هم د آیفون۱۳ لړۍ څلور ځیرک موبایلونه چې آیفون۱۳ میني، آیفون۱۳، آیفون۱۳ پرو او آیفون۱۳ پرو مکس نومول شوي دي، خرڅلاو ته وړاندې کړي. د لومړنیو معلوماتو پر بنسټ، آیفون۱۳ میني به ٥,۴ انچه، آیفون۱۳ به ٦,۱ انچه، آیفون۱۳ پرو به هم ٦,۱ انچه او آیفون۱۳ پرو مکس به ٦,۷ انچه مخپاڼه ولري.

## د زیتونو روغتیایي ګټې



زیتون که څېرته تور رنګه وي یاهم شین رنګه دواړه یې بې شمېره ګټې لري او په مختلفو ترکاریو او خوړو کې استعمالېږي، چې نه یوازې خوند ډېروي، بلکې د انسان پر روغتیا مثبت اغېز هم کوي. روغتیایي کارپوهان په دې اړه وایي چې تور زیتون په ډېره اندازه ویټامین اې لري، چې د سترګو لپاره ګټور ګڼل کېږي او د نظر د ستونزو په حل کې مرستندویه تمامېږي. که څېرته په ورځني ډول څو دانې تور زیتون وخوړل شي، نو نه یوازې دا چې ویښتان ښکلي کوي؛ بلکې د پوستکي داغونه هم له منځه وړي. دغه راز د سوخت لپاره د درد ضد درملو په توګه هم کار کوي. د یوې روغتیایي څېړنې له مخې ویل کېږي چې یو څو کاچوغې د زیتونو تېل په هماغه اندازه درد ختموي، لکه څومره یې چې درمل ختموي او یوه طبیعي درملنه ورته ویلی شو، چې کوم زیان هم نه لري. دغه راز تور زیتون د دانو په ختمولو کې هم اغېزمن رول لوبوي او د کلیسترولو په کمولو کې هم اغېزمن رول لوبوي او د وینې د شریانونو ستونزې هم هواروي.

قرضه برای شرکت‌های کوچک-متوسط
عزیزی بانک برای رشد و پیشرفت کاروبار و پیش برد پروژه های تان قرضه های کوچک و متوسط را با آسانترین شرایط به شما پیشکش میکند. تمام تجاران افغان که سه پروژه فعال دارند میتوانند این قرضه که مدت باز پرداخت آن بطور اقساط از یک الی دو سال میباشد، بدست بیاورند.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank